Social & Environmental Compliance Unit (SECU) — Stakeholder Response Mechanism (SRM)

UNDP — Empowered lives. Resilient nations.

# آیا ته د ملګرو ملتونو د پراختیا د پروګرام (United Nations Development Program) د پروژې څخه کومه اندېښنه لرې؟

د ټولنیزې او چاپیریال د تطابق بیاکتنه (Social and Environmental Compliance Review) او د اړوندو مقاماتو د غبرګون میکانیز (Stakeholder Response Mechanism)

## پیژندنه

که چیرې ته باور لرې چې د ملګرو ملتونو د پراختیا د پروګرام (UNDP) لخوا تمویل شوې پروژه یا پروګرام تاسې خواشینې کړې یاستی، یا داسې ښکاري چې تاسې یا ستاسې ټولنه خواشینې، او یا مو چاپیریال ته زیان رسوي، تاسې کولای شی چې د (UNDP) د ټولینیزې او چاپیریا د تتطابق څانګې او/یا د (UNDP) د اړوند مقاماتو د غبرګون میکانیزم څخه د مرستې غوښتنه وکړی.

## د تطابق بیا کتنه- د(UNDP) د ټولینزو او چاپیریال ژمنو اړوند اندیښنو په اړه غبرګون کوي

د ټولنیز او چاپیریال د تطابق څانګه (SECU) د پروژو څخه د هغو اغیزمن شوو ټولنو او افرادو د شکایتونو او نېوکو پلټنه کوي کوم چې باور لري چې د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) ئې د ټولنیز او چاپیریال ژمنو سره تطابق نکوي. او د یاد تطابق د نشتوالي د پایلو اړوند د ځینو اقداماتو اخیستلو سپارښتنې کوي. په ځانګړی ډول، دې کې د (UNDP) د ټولنیز او چاپیریال معیار سره تطابق نشتوالی هم شامل دی.

## څوک د شکایت او نېونکې دوسیه وړاندې کولای شي؟

هر هغه شخص یا ټولنه چې پدې باور لري چې د هغې چاپیریال یا هوساینه به د (UNDP) لخوا د تمویل شوي پروژې څخه اغیزمنه شي، کولای چې د نېوکې او شکایت دوسیه وړاندې کړي. یو نماینده، لکه د مدني ټولنې سازمان هم کولای چې د اغیزمن شوو ټولنو په استازیتوب د شکایت دوسیه وړاندي کړي.

هغه خلک چې د شکایتونو دوسیه وړاندې کوي کولای شي چې د (SRM) او (SECU) څخه د خپلو نومونو د پټ ساتلو غوښتنه وکړي.

## یوه غوښتنه کوم ځای کې وړاندې کړو؟

مهرباني وکړئ د (SECU) ټولې غوښتنې او پوښتنې دلته وسپارئ
secuhotline@undp.org.
د (SRM) غوښتنکی کولای شئ چې خپله غوښتنه د هغه هیواد د (UNDP) د دفتر له لارې وړاندې کړي کوم هیواد کې چې اوسیږي، او یا ئې د (SRM) ټیم مرکزي دفتر ته پدې ادرس واستوي:
stakeholder.response@undp.org
د هر هیواد د (UNDP) د دفتر د اړیکو اړوند معلومات د (UNDP) پر پاڼه موندلی شی
www.undp.org.

## په غوښتنه کې څه شی وړاندې کړو؟

ستاسې غوښتنه کې لاندې معلومات شاملیدل مرسته کوي:

- نوم، پته، تلفون شمیر او د اړیکې اړوند نور معلومات
- آیا غوښتنه وړاندې کونکی غواړي د لومړنیو ارزوونو پرمهال ئې پیژندګلوی ئې راز کې پاتې شي
- د (UNDP) نوم او ځای او د پروژې څرنګوالی
- د غوښتنې وړاندې کونکی څه ډول باور لري چې دی واقعا، یا داسې ښکاري چې (UNDP) لخوا تمویل شوي پروژې څخه په منفي ډول اغیزمن شي.
- د نورو هڅو او د شخړو د حل پروسې برسیره کول، کومې چې د غوښتونکې ته د هغې د اندیښنو یو منلی حل دی.

## د نورو مالوماتو لپاره:

www.undp.org/secu-srm
www.undp.org/ses
project.concerns@undp.org